# څوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، نو ما له هغه سره د جنګ اعلان وکړ او زما بنده ما ته په بل هیڅ شي دومره ندی رانږدې شوی لکه څومره چې د هغه څه په کولو سره رانږدې کیږي چې ما پرې فرض کړي دي

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي: «بیشکه الله تعالی فرمایلي دي: څوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، نو ما له هغه سره د جنګ اعلان وکړ او زما بنده ما ته په بل هیڅ شي دومره ندی رانږدې شوی لکه څومره چې د هغه څه په کولو سره رانږدې کیږي چې ما پرې فرض کړي دي او ماته زما بنده تر هغه د نوافلو په کولو سره رانږدې کیږي تر دې چې زه له هغه سره مینه ولرم، نو کله چې ورسره مینه وکړم: زه د هغه د بدن د غړو په کارولو کې توفیق ورکوم، داسې چې حق به اوري، حق به ګوري، لاسونه به په روا کړنو کې کاروي او په پښو به ښو ځایونو ته د تللو توفیق ورکوم، او که زما څخه سوال وکړي نو خامخا به یې ورکړم او که پر ما یې پناه وغوښته نو پناه به ورکړم او هېڅکله په یو کار کې متردد شوی نه یم چې کول یې غواړم پرته لدې چې کله د مؤمن روح اخلم، نو هغه مرګ بد ګڼي او زه د هغه خفه کول بد ګڼم».

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم په قدسي حدیث کې خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمایلي: څوک چې زما اولیاوو ته ضرر ورسوي، غوسه یې کړي او یا ترې کرکه وکړي، نو هغه ته مې خبرداری ورکړی او له هغه سره مې دښمني اعلان کړې ده. او ولي: هغه مومن دی چې تقوا لري او مومن چې په څومره اندازه ایمان او تقوا لري، په همغومره اندازه یې د الله جل جلاله سره د ولایت برخه ډېره وي. او مسلمان خپل رب ته په بل کار دومره نه دی نږدې شوی، څومره چې په هغو کارونو نږدې کیږي چې هغه پرې فرض او واجب ګرځولي لکه: د طاعتونو تر سره کول او د محرماتو پرېښودل، او تر هغه یو مسلمان خپل رب ته له فرضو سره د نوافلو په کولو نږدې کیږي تر دې چې د الله جل جلاله محبت ترلاسه کړي. نو کله چې الله تعالی ورسره مینه وکړي، الله تعالی به د دې څلورو غړو د سمې کارونې توفیق ورکړي: په اورېدلو کې به توفیق ورکړي، نو هغه څه به اوري چې الله پرې راضي کیږی. په لېدلو کې به توفیق ورکړي، نو یوازې هغه څه ته به ګوري چې الله یې خوښوي او پرې راضي کیږي. د لاسونو په کارولو کې به توفیق ورکړي، نو په لاسونو به یوازې هغه کار کوي چې الله پرې راضي کیږي. او د پښو په کارولو کې به توفیق ورکړي، نو یوازې هغه ځای ته به ځي چې الله یې خوښوي او یوازې هغه ځای ته به هڅه کوي چې خیر پکې وي. لدې سره که له الله جل جلاله څخه د کوم شي سوال وکړي، نو الله به یې غوښتنه ومني. او پدې سره به هغه څوک شي چې دعا یې قبلیږي، او که په الله جل جلاله پناه وغواړي او هغه ته د ملاتړ په موخه پنا یوسي، نو الله پاک به پناه ورکړي او د هغه څه په وړاندې به یې ملاتړ وکړي چې وېره ترې لري. بیا الله جل جلاله وفرمایل: او د هیڅ یو کار په کولو کې چې زه یې کول غواړم دومره متردد شوی نه یم څومره چې د مهربان له مخې د مومن په روح اخیستلو کې متردد شوی یم، ځکه چې هغه مرګ د هغه درد له امله بد ګڼي چې پکې دی او الله هر هغه څه نه خوښوي چې مومن دردوي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee